# د کلمهٔ طيبه برکتونه

**18-May-2023**



هفته‌وراه د سُنّتو ډکه اِجتماع کښې کيدونکے

د سُنّتو ډک بيان

(For Islamic Brothers)

په 18 مئي کال 2023ء د پاکستان په هفته وارو اجتماعاتو کښې کیدونکے بیان

# د کلمۀ طیبه برکتونه

په دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- آقا ﷺ پرې د کلمۀ طیبه وِرد اوکړو
- د کلمۀ طیبه مختلف نومونه
- کلمۀ طیبه د جنّت کُنجي ده
- د اُحُد د غر برابر ثواب
- د کلمۀ طیبه د ثواب بخښلو برکت

پیشکش

اَلْمَدِیْنَةُ الْعِلْمِیَة (اسلامِک ریسرچ سنٹر)

(شعبه بیاناتِ دعوتِ اسلامي)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله
اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاك فضيلت

فَقِهُ العصر [یعني د خپل وخت لوئي عالم] حضرت علّامه مفتي محمد امین صاحب رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه چا چې د درودِ پاک په فضیلت باندې د زمانې مشهور کتاب آبِ **کوثَر لیکلے** دے، هغوئي فرمائي: چې یو ځل د پیپلز کالونئ (فیصل آباد، پنجاب) نه یو سَیِّد صاحب د چا نوم چې سید ریاص وو، زما خوا له ئې تشریف راوړو او اوئې وئیل: زما کاروبار وو، تول په ټپه اودریدو، اوس په ما په لکونو روپئ قرض دے، اوس ډیر پریشانه یم، څه حل ئې راته اوښائیئ!

مفتي امین صاحب رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي چې ما سَیِّد صاحب ته د درودِ پاک په فضیلت لیکلے کتاب **آبِ کوثَر** ورکړو او اومې وئیل: سَیِّد صاحب! تاسو دا کتاب اولولئ! او د دې مطابق عمل اوکړئ! د دې په برکت به ستاسو ډیرې مسئلې حل شي-

سَیِّد صاحب کتاب واخستو او لاړلو بیا ئې تقریباً 6 میاشتې پس بیا تشریف راوړلو، دا ځل ډیر خوشحاله وو، په مخ ئې د خوشحالئ آثار وو، سَیِّد صاحب ډیر په خوشحالئ

اووئیل چې په ما باندې 7 لاکهه روپۍ قرض وې، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! اوس صِرف يو نيم لاکهه پاتې دي۔

دا قرض څنګه خلاص شو؟ د دې په تفصيل بيانولو کښې ئې اوفرمائيل: داسې اوشول چې ما آبِ کوثَر اولوستلو، په دې کښې چې مې د درودِ پاک فضيلتونه اولوستل نو شوق مې پيدا شو او ما ښه په مينه او شوق باندې ډير زيات درودِ پاک لوستل شروع کړل۔ ديخوا هغه خلق د چا نه چې ما قرض اخستے وو، هغوئي زه تنګولم، يوه ورځ ما درودِ پاک اولوستلو او د دُعا د پاره کښيناستم، څنګه چې مې د الله پاک په دربار کښې لاس اوچت کړل، د پريشانۍ په وجه باندې زما زړه راډک شو، ما په ژړا ژړا د الله پاک په بارګاه کښې دُعا اوکړه۔

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د درودِ پاک برکت داسې ظاهر شو چې ما يوه ورځ ايمان تازه کوونکے خوب اوليدلو، په خوب کښې څه ګورم چې زه چرته روان يم او يو ګس د سورې پشان زما سره سم روان دے، مزل مې کولو چې يو ځائے ته اورسيدم، ډير فراخه او ښکلے ځائے وو، هلته يو ډير ښائسته، نوراني مخ والا ګس تشريف فرما وو، مخې ته ئې قرآنِ پاک پرانستے پروت وو او هغوئي د قرآنِ مجيد تلاوت کولو۔

څنګه چې زه هلته اورسيدم نو هغه بزرګ سترګې مبارکې راوچتې کړې او ډير د مهربانۍ په نظر ئې اوکتل او بيا ئې تلاوت شروع کړو۔

هغه ګس کوم چې زما سره د سورې پشان يو ځائے وو، ما د هغه نه پوښتنه اوکړه: دا بزرګ څوک دے؟ هغه اووئيل: سَيِّد صاحب! دا هغه حبيبِ خُدا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے په

چا چې تاسو درودِ پاک لولئ- دومره کرم شوے وو چې زما سترګې برسيره شوې-

بس د هغه مالِک او مُختار نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغه يو نظر مبارک برکت دے چې ډير زر زما تقريباً پينځه نيم لاکهه روپۍ قرض خلاص شو-

مفتي امين صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: چې هغه سَيِّد صاحب 2 هفتې پس بيا تشريف راوړو او اوئې وئيل چې اَلْحَمْدُ لِلّٰه! ماته بهترين ملازمت (نوکري) هم ميلاؤ شوې ده-[1]

کیاخُداداد آپ کی اِمداد ہے | اِک نظر میں شاد ہر ناشاد ہے[2]

او سَيِّدي اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هم څه ښکلے عرض کوي:

قِسمَت میں لاکھ پیچ ہوں،سَو بَل،ہزار کَج | یہ ساری گُتھی اِک تری سیدھی نظر کی ہے[3]

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! درودِ پاک نايابه نعمت دے، د دې په برکت باندې سختې حل کيږي، تنګ لاسي (غريبي) په خوشحالئ کښې بدليږي، ګناهونه پاکيږي، رحمتونه ښه ډير راوريږي او يوه ډيره اهمه فائده ئې دا هم ده چې د درودِ پاک لوستونکي درود سرکارِ عالي وقار، د مکي مديني د تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بارګاه ته رسي، د مالِک او مختار نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عنايت نظر هم نصيب کيږي او د مالِک او مختار نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عنايت نظر هم نصيب کيږي-

الله پاک دې مونږ له د زيات درودِ پاک لوستلو توفيق راکړي او کاش! چې د درودِ

---

[1] ... البرہان، صفحه: 321 323 بتغير قليل-

[2] ... ذوقِ نعت، صفحه: 222-

[3] ... حدائقِ بخشش، صفحه: 227-

پاک په برکت سره زمونږه د محبوبِ خُدا، سردارِ انبیا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د کرم نظر نصیب شي نو اِنْ شَآءَاللہُ الْکَرِیْم! په دواړو جهانونو کښې به کامیاب شو-

پڑ گئی جس پہ محشر میں بخشا گیا ۔۔۔ دیکھا جس سمت ابرِ کرم چھا گیا
رُخ جدھر ہو گیا زندگی پا گیا ۔۔۔ جس طرف اُٹھ گئی دَم میں دَم آگیا

اُس نگاہِ عنایت پہ لاکھوں سلام

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب ۔۔۔ صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د بیان اوریدلو نیتونه

په حدیثِ پاک کښې دي: اَلنِّیَّةُ الْحَسَنَةُ تُدْخِلُ صَاحِبَهَا الْجَنَّةَ ښه نیت بنده جنت ته بوځي-[(1)]

اے عاشقانِ رَسُول! د ښه ښه نیتونو سره د عمل ثواب زیاتیږي- راځئ! د بیان اوریدلو نه مخکښې څه ښه ښه نِیَّتونه اوکړئ: مَثَلاً نِیَّت اوکړئ چې ❀ د الله پاک د رضا د پاره به ټول بیان اورم ❀ د عِلمِ دِین د تعظیم [یعني ادب] په نِیَّت به بااَدبه کښینم ❀ ښه په توجو به بیان اورم ❀ څه چې اورم، د هغې به د یادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رسولو کوشش کووم-

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب ۔۔۔ صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## آقا ﷺ ورته د کلمهٔ طیبه وِرد اوکړو

صحابئ رسول حضرت شدَّاد بن اَوس رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: مونږه صحابهٔ کرام عَلَیھِمُ الرِّضْوَان د

---

[1] ... مسند فِرْدَوس، جلد:4، صفحه:305، حديث:6895۔

الله پاک د آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حاضر وو، هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زمونږ نه پوښتنه اوکړه: هَلْ فِيْكُمْ غَرِيْب يعني په تاسو کښې څوک ناآشنا خو نشته (يعني دلته صحابه کرام ناست دي، څوک غير مسلمه خو نه دے ناست) ؟ مونږه عرض اوکړو: يَا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! مونږه ټول مسلمانان يو، څوک غير نشته- رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: بيا دروازې بندې کړئ (هم دا رنګه دروازې بندې کړے شوې) ، اوس هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اِرْفَعُوْا اَيْدِيْكُمْ وَ قُوْلُوْا: لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ لاسونه اوچت کړئ او لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وئيل شروع کړئ- حضرت شدّاد بن اَوس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: مونږه ټولو لاسونه اوچت کړل او د کلمه طيبه لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وِرد مو شروع کړو-

څه وخت پس د داسې ذِکرُ الله کولو نه وروستو مالِکِ جنت، قاسِمِ نعمت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زيرے واورولو او اوئې فرمائيل: اَبْشِرُوْا فَاِنَّ اللهَ قَدْ غَفَرَ لَكُمْ تاسو ته دې زيرے وي چې بے شکه الله پاک تاسو بخښلي ئيئ-

نور هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا هم اوفرمائيل: اَلْحَمْدُ لِلّٰه! اے الله پاکه! تا ما له دا پاکه کلمه راکړله او را اودې ليږلم، د دې د لوستلو حکم دې راکړو او په دې باندې دې د جنّت وعده اوفرمائيله او بے شکه تهٔ وعده خلافي نه کوې-[1]

حَسْبِیْ رَبِّی جس نے کہا، فیض کے دریا کو پایا
کُھل جائیں دَرِ جنّت کے، دوزخ کی سب آگ بُجھے

گوہرِ مقصد ہاتھ آیا، لَا اِلٰهَ اِلَّا الله
دِل سے کوئی اک بار کہے: لَا اِلٰهَ اِلَّا الله

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

[1] ... مسندِ امام احمد، جلد:7، صفحه:128، حديث:17586۔

## کلمهٔ طيبه مضبوطه قلعه ده

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! کلمهٔ طيبه ډېره مبارکه وظيفه ده، دا افضل ترين ذِکر هم دے، بهترينه وظيفه هم ده، هم د دې کلمې لوستلو سره کافِر مسلمانيږي، هم د دې مبارکې کلمې په رښتونې زړه سره د لوستلو په برکت د کافِر ټول ګناهونه ختم شي او هغه د جنّت حق دار جوړيږي- په حِليَةُ الاولياء کښې دي: د دواړو جهانونو مالک او مختار، مکي مدني سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حضرت جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَام په باره کښې بيانوي چې الله پاک ارشاد فرمائي: بے شکه هم زه الله يم، زما نه سيوا هيڅ معبود نشته نو زما بندګي کوه، په تاسو کښې چې څوک هم په اخلاص سره د لَا اِلٰهَ اِلَّا الله ګواهئ ورکولو سره زما خوا له راغلے هغه زما په پناه کښې راغلے او څوک چې زما په پناه کښې راغلے هغه زما د عذاب نه په امان کښې شو-[1]

میں ہوں بندہ وہ مولیٰ کون ہے اپنا اس کے سوا | میں ہوں اس کا وہ ہے مرا جس نے بنایا اور پالا

لَا اِلٰهَ اِلَّا الله اٰمَنَّا بِرَسُوْلِ الله

## د کلمهٔ طيبه مختلف نومونه

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د کلمهٔ طيبه لَا اِلٰهَ اِلَّا الله ډير زيات مبارک نومونه دي: ❀ د دې يو نوم: کلمهٔ توحيد هم دے ❀ کلمهٔ اِخلاص هم دے ❀ دې ته کلمهٔ اِحسان هم وئيلے شي ❀ دې ته کلِمةُ التَّقوىٰ هم وئيلے شي ❀ د دې مبارکې کلمې يو نوم: کلمهٔ

[1]… حِلْيَةُ الْاَوْلِياء، جلد:3، صفحه:224، حديث:3780۔

ثابِته یعنې ثابته شوې کلمه، پخه کلمه، نه ورانیدونکې کلمه، همیشه پاتې کیدونکې کلمه ده۔

## کلمۀ طیبه شجرۀ طیبه ده

د کلمۀ طیبه په فضیلتونو کښې یو فضیلت دا هم دے چې الله پاک په قرآنِ کریم کښې دې مبارکې کلمې ته کلمۀ طیبه اوفرمائیله او د دې مثال ئې د پاکې وَنې سره ورکړے دے۔ الله پاک فرمائي:

اَلَمْ تَرَ كَیْفَ ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا كَلِمَةً طَیِّبَةً كَشَجَرَةٍ طَیِّبَةٍ اَصْلُهَا ثَابِتٌ وَّ فَرْعُهَا فِی السَّمَآءِ ﴿۲۴﴾ تُؤْتِیْۤ اُكُلَهَا كُلَّ حِیْنٍۭ بِاِذْنِ رَبِّهَا ؕ وَ یَضْرِبُ اللّٰهُ الْاَمْثَالَ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ یَتَذَكَّرُوْنَ ﴿۲۵﴾

(پاره: 13، سورۀ ابراهیم: 24 25)

[مَفهُوم] ترجمۀ کنزُالعرفان: آیا تا اُونه لیدل چې **الله** د کلمے طَیِّبے څنګه مثال بیان فرمائیلے دے لکه یوه پاکیزه ونه چې وي، چې د هغې جرړه قائمه وي او د هغې خاخونه په آسمان کښې وي (۲۴) هر وخت د خپل **رب** په حُکم میوه ورکوي او **الله** د خلقو د پاره مثالونه بیان فرمائي د پاره د دې چې هغوئې پوهه شي (۲۵)

حضرت ابنِ عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: په دې مبارک آیت کښې د پاکې خبرې نه مُراد لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ده۔ [1]

یعنې کلمۀ طیبه هغه پاکه وَنه ده د کومې جرړې چې د مسلمان په زړه کښې دي، د دې ښاخونه (یعنې د مسلمان نیکئ) تر آسمانه پورې رسي۔ نورې وَنې خو داسې دي کومې

---

[1] ... تفسیر درِّ منثور، پاره 13، سورۀ ابراهیم، زیرِآیت: 24، جلد: 5، صفحه: 20۔

چې په کال کښې یو ځل یا دوه ځله میوه کوي خو کلمۀ طیبه هغه پاکه کلمه ده چې خپلو لوستونکو ته هر وخت تازه میوه ورکوي، د کلمې طیبې په برکت سره هره لحظه مسلمان ته تازګي میلاؤیږي، هره لحظه د هغه ایمان په ځائے وي، د دې په برکت سره هره لحظه انسان د الله پاک د رحمتونو حق دار جوړیږي۔

## د شفاعت حق دار څوک---؟

په 16 سیپاره، سورۀ مریم، آیت: 87 کښې الله پاک فرمائي:

لَا یَمْلِكُوْنَ الشَّفَاعَةَ اِلَّا مَنِ اتَّخَذَ عِنْدَ الرَّحْمٰنِ عَهْدًا ﴿۸۷﴾

(پاره:16، سورۀ مریم:87)

[مَفهُوم] ترجمۀ کنزُالعرفان: خلق د شفاعت مالکان نه دي مګر هُم هغه چا چې د رحمٰن له طرفه وعده اخستې ده (87)

په دې آیت مبارک کښې اوفرمائیلے شول: څوک هم د شفاعت مالک نشته، نه به څوک د قیامت په ورځ شفاعت کوي، نه به د چا شفاعت کولے شي، آؤ! څوک شته چې شفاعت به کوي او د هغه شفاعت به هم کولے شي او هغه څوک دے ؟ هغه هُغه خوش قِسمته دے د کوم چې د رَبِّ رحمان سره وعده ده- صحابئ رسول، سُلطَانُ المُفَسِّرین حضرت عبد الله بن عبّاس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: په دې آیت مبارک کښې د وعدې نه مراد کلمۀ طیبه (یعني د لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ الله) ګواهي ورکول دي- [(1)]

معلومه شوه: چې کوم خوش قِسمته په دې دُنیا کښې په رښتوني زړه سره کلمه لولي، په دې باندې ایمان لري، د دې ګواهي ورکوي، که چرې هغه د دې ګواهئ سره، د دې

[1] ... تفسیر درِّ منثور، پاره 13، سورۀ ابراهیم، زیرِآیت:24، جلد:5، صفحه:20۔

مبارکې کلمې په خپل زړه کښې د ساتلو سره، خپل ایمان سلامت یوسي او قبر ته کوز شي نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم! د هغه به د خوږ آقا مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم شفاعت هم نصیب کیږي او که الله پاک اجازت اوفرمائیلو نو هغه به د نورو مسلمانانو شفاعت هم کوي۔

صحابئ رسول حضرت ابو هریره رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: ما د الله پاک د آخِري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خِدمت کښې عرض اوکړو: یَا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! د قیامت په ورځ به ستاسو صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د شفاعت نه برخه بیاموندونکي خوش قِسمته څوک وي؟ اوئې فرمائیل: اے ابو هریره! زما ګُمان هم دا وو چې ستا نه مخکښې به زما نه دا خبره څوک هم نه پوښتي ځکه چې ما ته د حدیث اوریدو په معامله کښې ستا حِرص معلوم دے، (بیا ئې اوفرمائیل: اے ابو هریره!) د قیامت په ورځ به زما شفاعت موندونکے هغه خوش قِسمته وي کوم چې په رښتوني زړه سره لَآ اِلٰهَ اِلَّا الله اووائي۔ (1)

پیشِ حق مُژدہ شفاعت کا سُناتے جائیں گے
آپ روتے جائیں گے ہم کو ہنساتے جائیں گے
ہاں چلو حسرت زدو سنتے ہیں وہ دِن آج ہے
تھی خبر جس کی کہ وہ جلوہ دِکھاتے جائیں گے
کچھ خبر بھی ہے فقیرو آج وہ دن ہے کہ وہ
نعمتِ خُلد اپنے صدقے میں لٹاتے جائیں گے
وُسعتیں دی ہیں خدا نے دامنِ محبوب کو
جُرم کھلتے جائیں گے اور وہ چھپاتے جائیں گے
لو وہ آئے مسکراتے ہم اَسیروں کی طرف
خرمنِ عصیاں پر اب بجلی گراتے جائیں گے (2)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

---

1 ... بخاری، کتاب العلم، باب الحرص علی الحدیث، صفحہ: 100، حدیث: 99۔

2 ... حدائقِ بخشش، صفحہ: 155 156 ملتقطًا۔

# دوزخ حرام شي

د حضرت عثمان بن مالِک رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ نه روايت دے، رسولِ رحمت، شفيعِ اُمّت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: چې کوم بنده صِرف او صِرف د الله پاک د رضا په خاطِر لَا اِلٰهَ اِلَّا الله اووائي، بے شکه الله پاک په هغه باندې دوزخ حرام کړي- [1]

# کلمهٔ طیبه د جنّت کُنجي ده

د الله پاک آخِري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: مَنۡ مَاتَ وَهُوَ يَعۡلَمُ اَنَّهٗ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ دَخَلَ الۡجَنَّةَ يعنې څوک چې په دې حال کښې مړ شو چې هغه پوهيږي چې د الله پاک نه سيوا څوک د عبادت لائق نه دے نو هغه به جنّت ته ځي- [2] په يو حديث شريف کښې دي: خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: ثَمَنُ الۡجَنَّةِ لَا اِلٰهَ اِلَّا الله يعنې د جنّت قيمت لَا اِلٰهَ اِلَّا الله دے- [3] په يو بَل روايت کښې دي: رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: مَفَاتِيۡحُ الۡجَنَّةِ شَهَادَةُ لَا اِلٰهَ اِلَّا الله يعنې د جنّت کُنجياني د لَا اِلٰهَ اِلَّا الله ګواهي ورکول دي- [4]

يعنې په جنّت کښې مختلف ځيونه او مختلفې درجې دي، د دې ټولو درجو کُنجياني کلمهٔ طيبه لَا اِلٰهَ اِلَّا الله ده- [5]

---

[1] … بخاری، کتاب الاطعمة، باب الخزیرة، صفحه:1383، حدیث:5401۔

[2] … مسلم، کتاب الایمان، باب الدلیل علی ان من مات…الخ، صفحه:35، حدیث:26۔

[3] … مسندِ فردوس، جلد:2، صفحه:103، حدیث:2548۔

[4] … مسندِ امام احمد، جلد:9، صفحه:151، حدیث:22736۔

[5] … مراة المناجیح، جلد:1، صفحه:62 ماخوذًا۔

# د آسمانونو او جنّت کُنجي

مشهور ولیٔ کامِل حضرت بايزيد بَسطامي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡه يو ځل په سفر کښې وو، هغوئي ته غيبي آواز راغلے: اے بايزيد! سَمعان نومې ښار ته د کافِرانو د عبادت ځائے ته لاړ شه، د هغه ځائے د کافِرانو سره د هغوئي د اختر په اجتماع کښې شرکت اوکړه! حضرت بايزيد رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡه فرمائي: ما چې دا آواز واوريدو نو اَعُوۡذُ بِاللّٰه مې اولوستله، د الله پاک نه مې پناه اوغوښته او هغه طرف ته مې پام اونکړو خو د شپې چې کله اوده شوم نو په خوب کښې بيا هغه آواز راغلے، ما چې کله دا آواز واوريدو نو په لړزيدو او رَپيدو سره راپاخيدم، اوس مې لا د دې آواز په باره کښې سوچ کولو چې په ويخه زما بيا هغه آواز په غوږو شو: اے بايزيده! تا ته د ويريدو ضرورت نشته، ستا نوم د فرمانبرداره بنده ګانو په لسټ کښې دے، تهٔ د کافِرانو والا جامې واغونده او د کافِرانو په اجتماع کښې شريک شه! په دې کښې يو راز دے-

حضرت بايزيد بَسطامي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡه اوس پوهه شوے وو چې دا آواز د شيطان له خوا نه دے بلکې د رحمان له خوا دے، نو هم دا رنګه هغوئي سحر وختې پاځيدل د کافِرانو په شان جامې ئې واغوستې او سَمعان نومې ښار ته د کافِرانو د عبادت ځائے ته اورسيدلو، هلته هغه وخت ډير زيات کافِران راجمع شوي وو او د خپل د ټولو نه د لوئي عالِم انتظار ئې کولو- په لږ وخت کښې د هغوئي لوئي عالِم را اورسيدو، ټول د هغه نه راچاپيره شول، هغه لوئي عالِم ته تقرير کول وو، ټولو غوږونه کيښودل (يعني ټول د خپل لوئي عالِم طرف ته غوږ شول) خو دا څه، هغه لوئي عالِم په لړزيدو شو، د هغه ښپې رچيدلې، لکه د هغه خُله چې بنده کړے شوې وي- د هغه دا حالت ئې چې اوليدو نو خلقو اووئيل: اے سرداره! تاسو

تقرير ولې نه شروع کوئ؟ مونږه ستاسو خبرو ته ليواله يو- هغه لوئي عالِم اووئيل: نن ستاسو په دې اجتماع کښې يو محمدي (يعنې د آخري نبي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) غلام هم موجود دے، هغه ستاسو د دِين د امتحان اخستو د پاره راغلے دے-

بيا هغه لوئي عالِم په چغه اووئيل: اے محمدي! زه تا له د مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وسيله درکووم، چې چرته هم ئې اودرېږه! حضرت بايزيد بَسطامي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اودريدو- اوس هغه لوئي عالِم اووئيل: زه به ستا نه يو څو پوښتنې کووم، که چرې تا جوابونه راکړل نو مونږه ټول به ستاسو خبره منو، که چرې تا جواب رانکړے شو نو مونږه به تا هم دلته وژنو-

حضرت بايزيد بَسطامي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډير لوئي ولیُ الله وو، ډير لوئي عالِم دِين هم وو، هغوئي اوفرمائيل: څه پوښتنه چې کول غواړې اوئې کړه! زه به جواب درکووم- د هغه کافِرانو هغه لوئي عالِم د هغوئي نه 61 پوښتنې اوکړې، حضرت بايزيد بَسطامي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هلته په ولاړه ولاړه د دغه 61 پوښتنو صحيح صحيح جوابونه ارشاد اوفرمائيل- د ټولو پوښتنو د جوابونو ورکولو نه پس هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اوفرمائيل: اوس تهٔ زما د يوې پوښتنې جواب راکړه! دا اووايه! د آسمانونو او جنّت کُنجي څه ده؟ د کافِرانو لوئي عالِم اووئيل: د آسمانونو او جنّت کُنجي دا کلمهٔ طَيّبه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ الله ده- د خپل د ټولو نه د لوئي عالِم په ژبه ئې چې دا واوريدل نو هلته چې کوم کافِران موجود وو، ټولو کلمه اووئيله او مسلمانان شول، د عبادت په کوم ځائے کښې چې هغوئي راجمع شوي وو، هغه ئې هم په جُمات کښې بدل کړو- (1)

---

[1] ... الروض الفائق، المجلس السابع و الاربعون: في مناقب الصالحين، صفحه: 270 273 ماخوذًا و ملتقطًا-

## د کلمهٔ طیبه تقاضې پوره کول هم ضروري دي

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! کلمهٔ طیبه ډیره عظیمه کلمه ده، دا پاکه کلمه د جنّت دروازه او د جنّت د ټولو درجو کُنجي ده- الله پاک دې زمونږه په دې پاکه کلمه باندې استقامت نصیب کړي- دا خبره ښه یاده کړئ چې جنّت ته د تللو د پاره صرف کلمهٔ طیبه لوستل کافي نه ده، د دې تقاضې پوره کول هم ضروري دي، هم دا رنګه د حضرت زید بن اَرقم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه روایت دے، رسولِ ذیشان، مکي مدني سلطان صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: چا چې په اِخلاص سره لَآاِلٰہَ اِلَّا اللّٰہُ اوونیله، هغه به جنّت ته ځي- صحابهٔ کرامو علیہمُ الرِّضوان عرض اوکړو: یَا رسولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! د کلمهٔ طیبه اِخلاص څه دے؟ اوئې فرمائیل: دا چې بنده د الله پاک د حرام کړے شوؤ څیزونو نه بچ شي- (1)

یو ځل د حضرت وَهب بن مُنَبِّه رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ په خدمت کښې عرض اوکړے شو: آیا کلمهٔ طیبه د جنّت کُنجي نه ده؟ [اوئې فرمائیل] ولې نه (کلمهٔ طیبه ضرور د جنّت کُنجي ده) خو د هرې کُنجۍ غاښې وي، که چرې تاسو د دغه غاښو نه بغیر تالا برسیره کول غواړئ نو تالا به نه برسیره کیږي- (2)

سُبْحٰنَ الله! ډیره ښکلے مثال دے یعنې کلمهٔ طیبه کُنجي ده او لمونځ، روژه، حج، زکوٰة وغیره عبادتونه د کُنجۍ غاښې دي، ځکه که د دې کُنجۍ په ذریعه د جنّت تالا برسیره کول وي نو لمونځونه به هم کول وي، روژې به هم نیول وي، که حج فرض وي نو هغه به

---

1... معجمِ اوسط، جلد:1، صفحه:340، حدیث:1235-

2... بخاری، کتاب الجنائز، باب فی الجنائز و من کان... الخ، صفحه:354-

هم ادا کول وي، که چرې د زکوٰة شرطونه پوره کيږي نو زکوٰة به هم ورکول وي، باقي فرائض او واجبات به هم پوره کول وي، د ګناهونو نه به هم بچ کيدل وي- بيا به جنّت نصيب کيږي-

الله پاک دې په اِخلاص سره زمونږه د کلمهٔ طيبه لوستلو، دا په زړه کښې د ساتلو، د دې د تقاضو پوره کولو او د دې مبارکې کلمې سره قبر ته د کوزيدو توفيق نصيب کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

خدایا بُرے خاتمے سے بچانا
پڑھوں کلمہ جب نکلے دم یاالٰہی!
گناہوں سے بھرپور نامہ ہے میرا
مجھے بخش دے کر کرم یاالٰہی!
تُلیں میرے اعمال میزاں پہ جس دم
پڑے اِک بھی نیکی نہ کم یاالٰہی!
میں تھا لائقِ نارِ دوزخ خدایا
دی جنّت ہے کتنا کرم یاالٰہی!

## د حضرت نُوح عَلَيْهِ السَّلَام آخري نصيحت

د صحابئ رسول حضرت عبد الله بن عَمَرو رَضِیَ اللهُ عَنْهُما نه روايت دے، د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: د الله پاک د نبي حضرت نُوح عَلَيْهِ السَّلَام چې کله آخري وخت راغلے نو هغوئي خپل ځوي ته نصيحت اوکړو او اوئې فرمائيل: ځويه! زه تا ته د 2 خبرو حکم کووم او د دوؤ خبرو نه دې منع کووم: (1): ځويه! زه تا ته حکم کووم چې کلمهٔ طيبه لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ ډيره زياته لوله! بے شکه که چرې د تَلې په يو چابړي کښې اووه آسمانونه او اووه زمکې کيښودلے شي او په بَل چابړي کښې کلمهٔ طيبه لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ کيښودے شي نو د دې پاکې کلمې وزن به د اووه زمکو او اووه آسمانونو

نه زیات شي (2): ځویه! سُبۡحٰنَ اللّٰہِ وَبِحَمۡدِہٖ ډیر زیات وایه! بے شکه دا د هر څیز تسبیح ده او د دې په برکت سره مخلوق ته رزق ورکولے شي او ځویه! زه تا ته نصیحت کووم: (1): د شِرک او (2): تکبر نه همیشه بچ اوسه-[1]

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د حضرت نُوح عَلَيْهِ السَّلَام دا 4 نصیحتونه ډیر زیات اهم دي، مونږ له پکار دي چې دا پاک نصیحتونه په خپل زړه کښې کښینوؤ، کلمۀ طیبه همیشه زیاته وایو، ! سُبۡحٰنَ اللّٰہِ وَبِحَمۡدِہٖ زیات وایو چې دا هغه تسبیح ده د کومې په برکت چې رزق میلاؤیږي او د شِرک او تکبر نه همیشه بچ اوسو-

| | |
|---|---|
| کاش لب پر مرے رہے جاری | ذِکر آٹھوں پَہَر ترا یارب! |
| چشمِ تَر اور قلبِ مُضطَر دے | اپنی اُلفت کی مَے پِلا یا ربّ![2] |

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب        صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د هرې ګهنټې د ګناهونو کفاره

حضرت ابنِ عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فرمائي: په شپه ورځ کښې ټولې 24 ګهنټې دي او د کلمۀ طیبه حرفونه هم 24 دي نو خوک چې یو ځل کلمۀ طیبه لولي نو د هغه هر حرف د یوې ګهنټې د ګناهونو کفاره جوړیږي- بس چې کله بنده په ورځ کښې یو ځل کلمۀ طیبه لولي

---

[1] ... الادب المفرد، باب الکبر، صفحه: 167، حدیث: 548-

[2] ... وسائلِ بخشش، صفحه: 79-

نو په هغه باندې هیڅ ګناه نه پاتې کیږي، نو څوک چې دا زیاته لولي او دا خپله مشغولا جوړه کړي نو د هغه به څه مقام او مرتبه وي۔ (1)

## نه په قبر کښې ویره، نه په آخِرت کښې عذاب

د حضرت ابن عمر رضی اللہ عنہ نه روایت دے، د مدینې سرکار، د زړونو قرار صلی اللہ علیہ والہ وسلم اوفرمائیل: په لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ لوستونکو به نه په قبر کښې ویره وي او نه به په قبرونو کښې په ژوندي پاڅیدو کښې۔ لکه چې زه هغوئي وینم، چې کله هغوئي د خپلو سرونو نه خاوره څنډي او د قبرونو نه به ووځي او د لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وئیلو سره به جنّت ننوځي، بیا به هغوئي وائي: اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْۤ اَذْهَبَ عَنَّا الْحَزَنَ، اِنَّ رَبَّنَا لَغَفُوْرٌ شَكُوْرٌ یعنې ټولې خوبیانې د الله پاک د پاره دي چا چې زمونږ نه غم لرې کړو۔ (2) بے شکه زمونږه رَبّ بخښونکے، شُکر قبلوونکے دے۔ (3)

## کلمۀ طیبه لوستونکي د الله پاک محبوبان دي

د الله خوږ حبیب، حبیبِ لبیب صلی اللہ علیہ والہ وسلم فرمائي: د قیامت په ورځ به الله پاک (فرښتو) ته فرمائي: کلمۀ طیبه لوستونکي ما ته نزدې کړئ او زما د عرش په سوري کښې ورله ځائے ورکړئ، بے شکه زه د دوئي سره محبت کووم۔ (4)

---

[1] … الروض الفائق، المجلس السابع و الاربعون: فی مناقب الصالحین، صفحه: 273۔

[2] … معجمِ اوسط، جلد: 6، صفحه: 480، حدیث: 9478۔

[3] … احیاء علومِ الدین، کتاب الاذکار والدعوات، الباب الاول، جلد: 1، صفحه: 392۔

[4] … مسندِ فردوس، جلد: 5، صفحه: 236، حدیث: 8055۔

## كلمهٔ طيبه افضل ذِكر دے

اے عاشقانِ رَسُول! كلمهٔ طيبه ډيره طاقتوره وظيفه ده، په حديثِ پاک کښې دي ته افضل ذِکر فرمائيلے شوے دے، هم دا رنګه رسولِ خُدا، احمدِ مجتبیٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: اَفْضَلُ الذِّكْرِ: لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَ اَفْضَلُ الدُّعَاءِ: اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ يعني د ټولو نه افضل ذِکر كلمهٔ طيبه لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ ده او د ټولو نه افضل دُعا: اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ده-[1]

د قرآنِ كريم مشهور مفسر، حكيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک په وضاحت کښې فرمائي: د لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ نه مُراد پوره كلمه شريف ده يعني د مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره، ځکه نو لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ خو ډير مُوَحِّد كافِران بلکې ابليس هم لولي، هغه مُشرِک نه مُوَحِّد دے- په کوم څيز چې مؤمن جوړيږي هغه مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ الله ده، د كلمې مبارکې سره د کُفر کَند لرې کيږي، د دې لوستلو سره كافِر مؤمن جوړيږي، د دې سره د زړه نه زنګ لرې کيږي، د دې سره غفلت ځي، په زړه کښې بيداري راځي، دا د الله پاک د حمد او د مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نعت مجموعه ده ځکه دا افضل ذِکر شو- صوفيائے كرام فرمائي چې د زړه د صفائيئ د پاره كلمهٔ طيبه ډيره ګټه وره ده-[2]

## كلمهٔ طيبه د الله پاک بارګاه ته رسي

د صحابئ رسول حضرت اَنَس بن مالِک رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: كله چې بنده وائي: لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ نو دا مبارکه كلمه د هغه په خُله باندې د ادا

---

1 … ابنِ ماجه، کتاب الادب، باب فضل الحامدين، صفحه:609، حديث:3800-

2 … مراٰة المناجيح، جلد:3، صفحه:342-

کیدو سره آسمانونه اوشلوي او د الله پاک په بارګاه کښې حاضره شي- الله پاک فرمائي: اُسْكُنِیْ یعنې اے کلمې طیبې! په آرام شه! د بنده په ژبه باندې ادا شوې کلمهٔ طیبه عرض کوي: اے الله پاکه! زه څنګه په آرام شم ولې چې کوم بنده زه لوستلې یم هغه لا تر اوسه پورې نه دے بخښلے شوے- الله پاک فرمائي: اے کلمې طیبې! کومه لحظه چې بنده ستا تَلَفُّظ اوکړو (یعنې په خپله ژبه ئې ته ادا کړې وې) ما هم هغه وخت هغه بخښلے دے- (1)

اَللّٰهُ اَکْبَر! خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! اندازه اولګوئ! کلمهٔ طیبه څومره عظیمُ الشَّانه وظیفه ده- دلته بنده کلمهٔ طیبه اولولي، هلته د هغه بخښنه اوشي- کاش! چې مونږه د فضول خبرو نه خلاصے بیامومو، مونږ چې هر وخت په اخوا دیخوا خبرو کښې لګیا یو، کله غیبت، کله چغلي، کله د ګناهونو نه ډکې خبرې، کله فضول ګپونه لګوو، کاش! د دې نه خلاصے میلاؤ شي او مونږه کلمهٔ طیبه لوستونکي جوړ شو، په ژبه باندې د ذِکر او دُرُود وئیلو والا جوړ شو-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم.

میری زبان تر رہے ذِکر و دُرُود سے | بے جا ہنسوں کبھی نہ کروں گفتگو فُضُول (2)

## د اُحُد د غر برابر ثواب

د حضرت عمران بن حُصَین رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه روایت دے، رسولِ ذیشان، مکي مدني سلطان

---

[1] ... مسندِ فردوس، جلد: 1، صفحه: 285، حدیث: 1119-

[2] ... وسائلِ بخشش، صفحه: 243-

صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: آيا تاسو توان نه لرئ چې هره ورځ د اُحُد د غر همره عمل اوکړئ! صحابۀ کرامو علیہمُ الرّضوان عرض اوکړو: یا رسولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! په مونږ کښې څوک داسې کولے شي؟ اوئې فرمائيل: تاسو ټول د دې توان لرئ- بيا ئې اوفرمائيل: يو ځل سُبْحٰنَ الله وئيل د اُحُد د غر نه غټه ده، يو ځل لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وئيل د اُحُد د غر نه لويه ده او يو ځل اَللهُ اَكْبَر وئيل د اُحُد د غر نه غټ دے- [(1)]

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** اندازه اولګوئ! څومره ثواب دے- يو ځل په سُبْحٰنَ الله! وئيلو ، يو ځل په لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وئيلو او يو ځل په اَللهُ اَكْبَر! وئيلو څومره وخت لګي او د دې ثواب څومره دے؟ د اُحُد د غر نه زيات--- خو آه! چې مونږه د فضول خبرو نه وزګار شو نو ذِکرُ الله به اوکړو---!!

وہ تو نہایت سَستا سودا بیچ رہے ہیں جنّت کا
ہم مُفلس کیا مَول چُکائیں اپنا ہاتھ ہی خالی ہے [(2)]

## د غم او پريشانئ نه د خلاصي وظيفه

د حضرت عبد الله بن عبّاس رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه روايت دے، مالک او مختار نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: کوم بنده چې دا اووائي: لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ قَبْلَ كُلِّ شَيْءٍ، وَ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ يَبْقٰى وَ يَفْنٰى كُلُّ شَيْءٍ (يعني د هر څيز نه مخکښې لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ ده او هر څيز به فنا شي خو لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ به باقي پاتې وي) هغه به د غم او پريشانئ نه محفوظ ساتلے شي- [(3)]

---

[1] ... سننِ کبریٰ للنسائی ، جلد:9 ، صفحه:308 ، حديث:10604-

[2] ... حدائقِ بخشش ، صفحه:186-

[3] ... ترتیب الامالی الخمیسیۃ للشجری ،جلد:1 ، صفحه:38 ، حديث:119-

الله پاک دې مونږ له د کلمې طیبې زیاتې وئیلو، ژبه په ذِکر او دُرُود باندې د لمدې ساتلو توفیق را کړي۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ۔

## د ځنکدن په وخت باندې د کلمۀ طیبه تلقین کوئ!

د تاجدارِ رِسالت، شهنشاهِ نُبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عالیشان دے: لَقِّنُوْا مَوْتَاكُمْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ خپلو مړو ته د لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ تلقین کوئ۔ [1]

یعني چې څوک مري هغه ته کلمه ښائیئ داسې چې د هغه په خوا کښې په تیز آواز کلمه لولئ۔ [2]

## د کلمې د تلقین طریقه

صدر الشریعه بدر الطریقه مفتي محمد امجد علي اعظمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خپل ډیر ښکلي کتاب بهارِ شریعت کښې لیکي: د ځنکدن په حالت کښې چې تر څو پورې ساه تر مرئ پورې نه وي راغلې مړ کیدونکي ته تلقین کوئ یعني د هغه سره په خوا کښې په تیز آواز اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللهِ لولئ خو هغه (یعني مړ کیدونکي ته) د دې د وئیلو حکم مه کوئ۔ چې کله هغه (یعني مړ کیدونکي) کلمه اووئیله نو تلقین پریږدئ۔ آؤ که چرې د کلمې وئیلو نه پس هغه څه خبره اوکړه نو بیا تلقین کوئ چې د هغه آخري خبره لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللهِ شي۔ [3]

---

[1] ... مسلم، کتاب الجنائز، باب تلقین الموتی لا اله الا الله، صفحه: 329، حدیث: 916۔

[2] ... مراۃ المناجیح، جلد: 2، صفحه: 444۔

[3] ... بهارِ شریعت، جلد: 1، صفحه: 808، حصه: چهارم بتغیر قلیل۔

## د کلمۀ طيبه ثواب بخښنئ!

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** کلمۀ طيبه پخپله هم لولئ! ښه ډيره ئې لولئ! او ورسره ورسره د دې مبارکې کلمې ثواب خپلو وفات شوؤ ته هم رسوئ، اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم! د دې به هم ډير برکتونه نصيب کيږي-

يو ځل د سيدي اعلیٰ حضرت امام اهلِسُنَّت شاه امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه چا پوښتنه اوکړه: د يو کَس لور وفات شوه، هغه خپله لور په خوب کښې په ډير بد حالت کښې اوليدله- سيدي اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په جواب کښې اوفرمائيل: کلمۀ طيبه دې 70 زره ځله د درود شريف سره اولوستلے شي او اودې بخښلے شي اِنْ شَآءَ الله د لوستونکي او چا ته چې ئې بخښلې ده، د دواړو د پاره به د نجات ذريعه شي او د لوستونکي به دوه چنده ثواب اوشي او که چرې دوؤ ته ئې اوبخښي نو درې چنده دغه شان کروړونو بلکې ټول نارينه او زنانه مُؤمِنانو ته ئې ثواب بخښلے شي- په دې نسبت سره به د دې لوستونکي ثواب کيږي- [1]

## د کلمۀ طيبه د ثواب بخښلو برکت

حضرت شيخ اَکبَر محي الدين ابنِ عربي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه يو ځائے ته د دعوت د پاره تشريف يوړلو، هغوئي اوليدل چې يو هلک ډوډۍ خوري، د ډوډۍ خوړلو په وخت ناڅاپه په ژړا شو- د وجې پوښتنه چې ترې اوکړے شوه نو اوئې وئيل چې زما مور ته د دوزخ حکم دے او فرښتې هغه بوځي (په دې ښار کښې دا هلک په کشف کښې مشهور وو)- د

---

[1] … ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت، صفحه:139۔

حضرت شیخ اَکبَر محي الدین ابنِ عربي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه سره دا کلمهٔ طیبه 70 ځله لوستلے شوې محفوظ وه هغوئي د هغه مور ته په زړه کښې د دې ثواب اوبخښلو- فوراً هغه هلک په خندا شو، هغوئي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه ترې د خندا د سبب پوښتنه اوکړه، هلک جواب ورکړو چې حضور ما اوس اولیدل چې زما مور فرښتې د جنت طرف ته بوځي- شیخ ارشاد فرمائي: د دې حدیث تصدیق ما ته د هغه هلک په کشف سره اوشو او د هغه د کشف تصدیق د دې حدیث نه- (1)

الله پاک دې مونږ له هم د کلمهٔ طیبه د لوستلو، د زړه نه په دې باندې د ایمان ساتلو، په دې باندې د ثابت قدم اوسیدو او بیا بیا د وئیلو سره خپلو وفات شوؤ ته د ثواب بخښلو توفیق راکړي-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم .

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب      صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## په 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار: د سحر لمونځ د پاره راپاڅول

**اے عاشقانِ رسول!** د نیک لمونځ گزاره جوړیدو د پاره د عاشقانِ رسول دیني تحریک دعوتِ اسلامي په 12 دیني کارونو کښې عملاً برخه واخلئ! د دعوتِ اسلامي په 12 دیني کارونو کښې یو کار دے : **د سحر د لمونځ د پاره راپاڅول**، یاد ساتئ! د سحر د لمونځ د پاره خلق راپاڅول د آخري نبي، نبئ اُمّيّ صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دي- اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! د دعوتِ اسلامي سره تعلق لرونکي عاشقانِ رسول د سرکارِ عالي وقار، د مدینې د تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په

[1] … ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت ، صفحه:139۔

سُنَّت د عمل کولو د جذبې لاندې د سحر لمانځه نه مخکښې کوځه په کوځه ګرځئ او په چغه درود او سلام لولي او خلقو ته د بسترو پرېښودو سره د سحر لمونځ کولو د پاره د تللو دعوت ورکوي- تاسو هم په دې ديني کار کښې برخه واخلئ، سحر وختي پاځئ، که الله پاک مو نصيب کړي نو د تهجدو لمونځ کوئ، ذِکر او درود شريف لولئ، د سحر د لمانځه نه پس د مدني مرکز د ورکړے شوې طريقې مطابق خلق د سحر د لمانځه د پاره راپاخوئ، د دې عمل په برکت سره به اِنْ شَآءَ اللّٰه الْکَرِيْم! ډېر ثوابونه به په لاس درشي-

## په آخري وخت کښې ئې کلمه نصيب شوه

د پنجاب، اوکاړې ضلعې د ديپالپور ښار د يو اسلامي ورور بيان دے: زما ترهٔ محمد رفيق عطاري د دعوتِ اسلامي د ديني ماحول لمن نيولې وه او د شيخ طريقت، رهبرِ شريعت، اميرِ اهلِسنّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه مُريد وو، خلق د سحر لمانځه د پاره راپاخول د هغه معمول وو، سحر وختي به پاځيدو او لرې لرې به تللو او مسلمانان به ئې د سحر د لمونځ د پاره راپاخول، د دې عادت په وجه په ټول ديپالپور کښې مشهور وو، يو ځل د فيصل آباد نه واپس کور ته راتللو، چې د ماسخوتن د لمانځه وخت شو نو ګاډے ئې اودرولو او لمونځ ئې ادا کړو او بيا په سفر روان شو، ګاډے تيز روان وو، چې ناڅاپه محمد رفيق عطاري په تيزه تيزه کلمه اووئيله او اوئې فرمائيل: ټول کلمه اووائيئ، ټولو کلمه اووئيله، لږ وخت پس ګاډي يوه ناڅاپي تيزه جَټکه اوخوړله او ګاډے کندې ته پريوتو، ټول خلق معمولي زخميان شول خو محمد رفيق عطاري ډېر زخمي شو، د سخت

تکلیف باوجود د هغوئي په خُله کلمه جاري وه او مَاشَآءَ اللهُ! قسمت ته ئې اوګورئ! په کلمه وئیلو وئیلو کښې د دنیا نه رخصت شو۔

فضل و کرم جس پر بھی ہوا، لب پر مرتے دَم کلمہ | جاری ہوا، جنت میں گیا، لَآاِلٰہَ اِلَّااللہ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د لمونځونو د وخت (Prayer Times) د ایپ پیژندګلو

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د دعوتِ اسلامي آئي ټي ډیپارټمنټ يو ډیر ښکلے موبائل ایپلي کیشن د لمونځونو د وختونو **(Prayer Times)** په نوم جاري کړے دے ❁ د دې ایپلي کیشن په ذریعه په ټوله دنیا کښې د هر ځائے وختونه او د قبلې اړخ معلومیدے شي ❁ د دې نه علاوه د پینځه واړو لمونځونو وختونه میاشتنے ټائم ټیبل ❁ ذِکرونه (روحاني علاج) ❁ مدني چینل ریډیو ❁ د لمونځونو په وختونو کښې د موبائل سائلنټ **(Silent)** کولو سهولت او اسلامي کلینډر موجود دے۔ په خپل موبائل کښې دا ایپلي کیشن انسټال کړئ او نورو له هم د دې ترغیب ورکړئ۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** بیان د ختمولو په لور بوځم او د سُنّت د فضیلت او د ژوند د ځینو آدابو بیانولو سَعَادت حاصلووم۔ د رِسالت تاجدار، شهنشاهِ نبوت صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِیَ فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّت سره محبت اوکړو

هغوئي زما سره محبت اوکړو او چا چې زما سره محبت اوکړو هغوئي به په جنّت کښې زما سره وي۔ (1)

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

## شُکر ادا کول سُنَّت عمل دے

**د آخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **2 فرامين: (1):** د بنده په هره لمړئ او هر ګوټ باندې د الله كريم شُكر ادا كول د الله پاک ډير خوښ دي۔ (2) **(2):** خپلې ژبې په ذِکر سره او د زړه په شُکر سره لمدې اوساتئ!۔ (3)

**اے عاشقانِ رَسُول!** شُكر ادا كول سُنَّت عمل دے ❀ د الله پاک آخِري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به ډير زيات شُكر ادا كولو ❀ هغوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چرې هم ناشُكري نه ده كړې ❀ شُكر اعلىٰ عبادت دے ❀ د شُكر ادا كولو سره نعمت زياتيږي ❀ بنده ته چې نعمت ميلاؤ شي، بنده دې شُكر ادا كړي، د دې په بركت به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! بنده د عذاب نه محفوظ وي۔ (4)

**د شُكر ادا كولو طريقه:** ❀ حضرت ابو بكر شبلي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: نعمت ته د كتلو په ځائے، نعمت وركوونكي ته نظر كول شُكر دے۔ (5) مثلاً تاسو ته تنخوا ميلاؤ شوه، ادا

---

[1]… تاريخ دمشق، جلد:9، صفحه:343۔

[2]… مُسْلِم، كتابُ الذِّكْر و الدُّعَا، صفحه:1122، حديث:6932۔

[3]… شُعَبُ الْاِيْمَان، باب: محبةُ الله، جلد:1، صفحه:419، حديث:590، ملتقطاً۔

[4]… صِرَاطُ الجنان، جلد:4، صفحه:406، خُلاصةً۔

[5]… اِحْيَاءُ العلوم، كتابُ الصّبْر والشكر، جلد:4، صفحه:103، خلاصةً۔

هم نعمت دے، په امتحان کښې پاس شوئ، ځوي يا لور مو اوشوه، د لمونځ کولو توفيق ميلاؤ شو، د روژې نيولو سعادت ميلاؤ شو، صدقه مو ورکړه وغيره څه نعمت هم ميلاؤ شو نو اوس دې نعمت ته مه ګورئ بلکې سوچ اوکړئ: الله پاک دا نعمت عطا کړو، د نعمت نسبت ځان طرف ته نه، د الله پاک طرف ته کړئ ❁ امام غزالي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: د نعمت سره د نيکئ اراده کول **د زړه شُکر** دے- په ژبه باندې د الله پاک حمد او ثنا کول **د ژبې شُکر** دے- د الله پاک راکړے شوے نعمت په عِبَادت کښې لګول، دا په ګناه کښې د استعمالولو نه بچ کول **د نورو اندامونو** شُکر دے-[1]

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د **مکتبة المدينه** د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه 16 حصې او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 مخونو رساله **550 سنت او آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنت زده کولو يوه ذريعه د دعوتِ اسلامي قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے-

الفتِ مصطفےٰ اور خوفِ خدا
گر مدینے کا غم چاہئے چشمِ نم

چاہئے گر تمہیں قافلے میں چلو
لینے یہ نعمتیں قافلے میں چلو

الله پاک دې مونږ له د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1] ... اِحْيَاءُ العلوم، کتابُ الصّبر والشکر، جلد:4، صفحه:103، خلاصةً-

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [یعنې د جُمعے د شپے] دُرُود

بُزرګانِ دینو فرمائیلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (یعنې د جُمُعے او زیارت مینځنۍ شپه کښې) دا دُرُود شریف په پابندۍ سره کم ازکم یو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدینه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِیدار کوي او قَبْر کښې د داخلیدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدینه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر ته د خپل رَحمت نه په ډکو لاسونو باندې کوزوي.[1] راځۍ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ
الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

### ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

د حضرتِ سیِّدُنا انَس رَضِىَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دے چې تاجدارِ مدینه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو د کښیناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودریدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځۍ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

1 . . . افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص۱۵۱ملخصًا

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازې:

خوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازې بيرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو:

صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿4﴾ د شپږ لا كه دُرُودشريف ثواب

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لا كو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللّٰہِ
صَلَاۃً دَآئِمَۃً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰہِ

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَسَلَّم

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدّيقِ اكبر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ كرام رَضِیَ اللہُ عَنْہُم حيران شول چې دا خوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰی لَہٗ

---

1...القول البدیع، الباب الثانی، ص۲۷۷

2...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ الثانیۃ والخمسون، ص۱۴۹

3...القول البدیع، الباب الاول، ص۱۲۵

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتې د يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ
رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

1... الترغيب والترهيب، کتاب الذکر والدعاء، ۲/۳۲۹، حديث:۳۰

2... مجمع الزوائد، کتاب الادعية، باب فی کيفية الصلاة... الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث:۱۷۳۰۵

3... تاريخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حديث:۴۴۱۵